محمدابراهیم سپېڅلی

۲۰۲۶/۰۸/۲۲

# وحشي باد

د ماخستن له ډوډۍ خوړولو وروسته مو له مېلمنو سره ښه مجلس وکړ.
د شپې تر ډېره مجلس تود ؤ
د شپې په نیمايي کي خوب د مجلس خوند پيکه کړ.
کوربانه او مېلمانه د خوب بسترو ته ولاړل.

ماهم بالښت ځان ته سم کړ او پرېوتم
يو ګړی لا پرځای پرتو کسانو کرار کرا مجلس کاوه
کرار، کرا دغه مجلس هم ارام سو.

ما يو ګړی د خوني چت ته کتل، وروسته مي سترګي سره ورغلي او کرار بيده سوم.

د خوني د دروازې په کړپې راویښ سوم، هڅه مي وکړه د خوني ګروپ روښان کړم، خو برېښنا تللي وه.
د ټليفون څراغ مي ولګوئ
د خوني دېوالي ساعت ته ګورم، د شپې درې بجي او پنځه څلوېښت دقيقې دي.
له خوني څخه د سر غولي ته راووتم.

او هو! د اسمان مخ تورو وريځو پوښلی دئ
تېز باد د دروازو پرمخ راځړولي پردې ترپوي
په کور کي مي د ټولو خونو او پخلنځي دروازې ټينګي وتړلې.

تېز باد له سرې کالي کاږي
د تالندې او برېښنا سره باران هم پيل سو.
باران او تېز باد دواړه سره ملګري سول.

زه ژر خوني ته راغلم، په ځای کي پرېوتم، کالي مي لانده دي، خوب نه راځي
د تالاندې غږومبې مېلمانه او کوربانه د خوب له پستي غېږې را جلا کړل.

لږ ګړی وروسته سېلاب راغلی.
خړې اوبه د غريبانو کورونو ته لکه زورواکي په خپل سر ننوتلي

دادئ په دې نيمه شپه د ښځو او کوچنيانو چيغي اورم «د خدای پار دئ ، مرسته راسره وکړئ !»
هيڅوک په دې نارو او چيغو سر نه خلاصوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځير و لولـئ

سهار  له اذانو سره طوفاني باد او باران کرار سول
د اسمان له مخه د وريځي اوښان جنوب خواته روان دي
باد او باران هم د دغو اوښانو  پر قدمونو پلونه ږدي.

دا دئ اوس مرستندويه ډله کلي ته راورسېده، هري سېلاب ځپلي کورنۍ ته يې يوه بېلچه، يو لور او يو زوړ څراغ ووېشل.

۱۳۹۳ / غويی / لسمه
کندهاربښار، حضرت جي واټ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ